د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی وزارت

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Communication and IT
دمقام د دفتر ریاست
Office of the Spokesman| دفترسخنگوی| د ویاند دفتر

## مطبوعاتي خبرپاڼه

نېټه: د ۱۳۹۷ د سلواغه ۳۱ مه

موضوع: افغانستان د ایران له لارې د ارزانه انټرنېټ د اخیستلو هوکړه وکړه

د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد آریوبي ایران اسلامي جمهوري دولت ته د خپل دوه ورځنې رسمي سفر کې د TIC دولتي شرکت د لیډني تر څنګ د ایران د مخابراتو او فناورۍ وزیر محترم محمدرضا آذری جهرمی سره د لیدني په ترڅ کې د دواړو هېوادونو تر منځ د دوه اړخیزه اړیکو په ځانګړې توګه د انټرنټ په برخه کې د همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې.

په دغه ناسته کې د سیمه ییز اتصال په موخه د افغانستان د جغرافیوي موقعیت پر ارزښت، د انټرنټي او مخابراتي خدماتو د بیو پر کمښت او په ارزانه بیه د ایران څخه د نوري فایبر د کېبل د نښولو په اړه هوکړه وشوه.

همدا راز د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد آریوبي او د ایران د ارتباطاتو او معلوماتي فناورۍ وزیر محترم محمدرضا آذری جهرمی د هرات او زرنج تر منځ د نوري فایبر د اتصال او د ایران له لارې چابهار سره د افغانستان د اتصال په برخه کې هوکړه وکړه چې له دې لارې به افغانستان د بحري کېبل (Submarine cable)سره د نښلېدو او سیمه ییز اتصال تر څنګ د انټرنټي معلوماتو د ټرانزیټي مرکز په توګه نور هم پیاوړی شي.

محترم شهزاد آریوبي وویل چې غواړي د ښو اړیکو د پراختیا تر څنګ د ایران څخه په کمه بیه انټرنټ وپېري، د ټلیفوني مکالماتو په برخه کې ددواړو هېوادونو تر منځ نرخونه کم شي او تر څنګ يې افغانستان په سیمه کې د اتصال د مرکز په توګه ثابت شي.

د یادولو ده چې افغانستان اوسمهال د سیمې د ټولو هېوادونو سره د انټرنېټ مواصلاتي اړیکې لري او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په پام کې لري چې افغانستان د ټولو ګاونډیو هېوادونو سره د نښلېدو تر څنګ د ټرانزیټي مرکز په توګه د دولت خزانې ته د پام وړ عواید هم را ټول کړي.

همدا راز د افغانستان او ایران د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیرانو د افغانستان د معلوماتي ټکنالوجۍ او مخابراتي انیسټیټیوټ د ظرفیت سازۍ او په دې برخه کې د همکارۍ په اړه هم هوکړه وکړه.

د نورو معلوماتو لپاره زموږ ویب سایټ www.mcit.gov.af ته مراجعه وکړئ اویا د ۰۷۴۳۱۲ ۹۳۷۴۷ شمېرې سره اړیکه ونیسۍ.